بېشكه ستاسو د هر يوه پيدايښت د خپلې مور په رحم كې په څلوېښتو ورځو كې داسې راغونډيږي چې

له ابي عبدالرحمن، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى، وايي: مور ته رسول الله صلى الله عليه وسلم بيان وكړ، حال دا چې هغه خپله ريښتينى او د ريښتيني په توګه منل شوى دى چې: « بېشكه ستاسو د هر يوه پيدايښت د خپلې مور په رحم كې په څلوېښتو ورځو كې داسې راغونډيږي چې بيا د دې په شان د غوښې تكړه شي، بيا د دې په شان كرپندوكى شي، بيا الله تعالى يوه پرښتنه ورولېږي، نو هغه پكې روح پوك كړي، او ورته امر كېږي چې (په اړه يې) څلور شيان وليكي: د هغه رزق، د هغه اجل، د هغه عمل او دا چې هغه به بدمرغه (شقي) وي او كه نېكمرغه، نو قسم دې زما په هغه ذات وي چې له هغه پرته بل حق معبود نشته چې ستاسو څخه به يو څوک د جنتيانو عمل كوي تر دې چې د هغه او د جنت تر منځه به يوازې د يوه ذراع (نيم ګز) په اندازه واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې رامخكې شي او د دوزخيانو عمل به وكړي، چې له امله به يې دوزخ ته لاړ شي، او همداراز ستاسې څخه به يو څوک د دوزخيانو عمل كوي تر دې چې د دوزخ سره به يې يوازې يو ذراع (نيم ګز) واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې رامخكې شي او د جنتيانو عمل به وكړي چې له امله به يې جنت ته داخل شي».

[صحيح دى] [البخاري او مسلم روايت كړى دى]

خپلو خبروابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته دا خبره كړې ده او هغه په كې رښتينى دى؛ ځكه چې الله تعالى ريښتونى ګڼلى دى. هغه وفرمايل: ستاسو څخه د يو تن جوړښت راټوليږي، داسې چې كله يو سړى د خپلې مېرمنې سره يو ځاى كيږي، نو د هغه شېندل شوي مني د ښځې په رحم كې د څلوېښتو ورځو لپاره د نطفې په شكل كې راټوليږي. بيا علقه وګرځي چې هغه ټينګه او وچه وينه ده، او دا - كار - په دويمه څلوېښت كې كيږي، بيا مضغه شي؛ چې هغه د غوښې دومره اندازه ټوټه ده چې ژولو ته برابره وي، او دا په دريمه څلوېښت كې كيږي. بيا ورته الله تعالى ملايكه راوليږي، نو د دريمې څلوېښت په پاى كې پكې روح پوكړي، ملايكې ته امر وشي چې څلور خبرې وليكي: د هغه رزق؛ چې له هغه اندازې نعمتونو څخه عبارت دى چې په خپل عمر كې به يې لاسته راوړي، د هغه اجل؛ او دا په دنيا كې د هغه د پاتې كېدا موده ده، د هغه عمل، چې څه دى؟ او دا چې آيا نيكمرغه دى كه بد مرغه. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم قسم ياد كړ چې يو سړى به د جنتيانو عمل كوي او عملونه به يې نيك وي، يعنې هغه څه چې خلكو ته ښكاري؛ تر هغه وخته پورې به همداسې وي، تر دې چې د ده او جنت تر منځ يوازې د يو ګز په اندازه فاصله پاتې شي، يعنې د ده او جنت ته د رسېدو په منځ كې به دومره فاصله پاتې شي لكه د يو ګز په اندازه، نو تقدير او هغه څه به پرې غالب شي چې ورته ليكل شوي دي نو د دوزخيانو عمل به وكړي، نو په همدې سره به يې خاتمه وشي او اور ته به داخل شي. ځكه چې د عمل د منلو شرط دا دى چې په هغه باندې ثابت قدمه پاتې شي او بدلون ورنكړي. او د خلكو څخه يو بل تن به د دوزخيانو عمل تر هغه وخته پورې كوي چې هغه دوزخ ته ننوتلو ته نږدې شي او داسې به وي لكه د ده او د اور تر منځ چې د ځمكې د يو ګز په اندازه واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې غالب شي او هغه څه چې ورته ليكل شوي دي نو د جنتيانو عمل به وكړي او جنت ته به داخل شي.


النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY


لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee